# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد    بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم    از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com    afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
| --- | --- |


۰۳-۰۶-۲۰۱۰ بسمل

## جرګه نه ده د ولس سرګرداني ده

**په پردی کېږدی کې ناست دي دپردیو غلامان بیا ××× په ډالرو پلـورل شـــــوي ځو ناوړه انسانان بیا**



**ګرانو خویندو او ورونو!**

دا ده نړدې یوه لسیزه پوره کیږي چې دانصاف ، پرمختګ، دیموکراسي ، مخدره توکو په ضد، د ښځو د حقونوتأمین ، ماشوم روزنې او پالنې ، تروریزم ځپلو او نورو ډېرو په زړه پورې نعمتونو د وپشلواو لاس ته راوړلو په پلمه دامپریالیزم برګې برګې غلې زموږ په پاکه خاوره راواوښتې همدلته یې سنګر ونیو او خپلې وعدې یې په لاندې ډول سره تر سره کړې :

انصاف :

دې ښاغلو داسې عدل او انصاف پر مخ بوت چې هم اوس محکوم دي او هم به راتلونکې نسلونه دتاریخ پاڼې پرې ډکې کړي لعنت به ورته ووايي وایم چې انسانیت یې وشرماوه اوس داشرف المخلوقات په لوړه معنوي فلسفه د سړي شک راځي دې سړي خورو زموږ مظلوم افغان ولس له باران څخه ناوې ته کښېناوه ، هغه ولس دریادوم کوم چې د همدې دروغجنو او جفاکارو لخوا په ډېر چل او هنرولوبېده او وځپل شو دې ظالمانوداسې بې انصافي ورسره وکړه چې دا لاندې کفنکښ جنګي جنایتکاران یې د ولس په اوږو ورسپاره کړل ویې نازول او لا نور به یې هم پسې ونازوي تر نن ورځې یې هم دمخالفت په قالینه کښېنولي او هم د قدرت .








**پرمختک :**

په دې نړدې یوه لسیزه کې یې هیڅ کومه داسې مهمه تولیدي ، پرمختیایي او علمي موسسه ودانه نه کړه چې خلګو ته روزګار وموميي، تولید وکړای شي او مسلکي ضرفیتونه اوچت کړي داخو لا اخوا پرېږدئ دومره یې هم ونه شوای کړای چې یو دولتي لوی تالار ودان کړي اوس هم لا دجرمنیانو په کبږدی کې را ټولیږي هلته یې هم پرون پسې وځغلول ډزې یې پرې وکړې دځغاستو په وخت کې کرزي ناره وکړه چې :

ری به نه پکشي وهی کرار کشېنئ خیر او خیرت دی؟؟

دا خو سړي ته پوښتنه پیدا کوي چې بابا دا څنګه خیر او خیرت دی ؟

دا ته ولې دومره ډاډه یې ؟

دا د ربښتیا ډزې وې او که دوړم کال په ډول چې دغویي په اتمه نېټه کومه ډرامه دنظار شورا استخباراتي باند جوړه کړې وه هلته خو یې کرزي ته هیڅ زیان ونه رساوه صرف فضل الرحمن ځمکنی یې په نخښنه کړی و.

**دیموکراسي :**

په دې برخه کې یې له ټول بشریت سره دومره جفا او جرم وکړ چې حد نه لري ، کېدای شي راتلونکي نسلونه د دیموکراسي د ښکلي کلیمي پر ځای یوه نوې کلیمه د دې مفهوم لپاره پیدا اوبیا غوره کړي دا ځکه چې د دیموکراسي له کلیمي څخه اوس ډېری خلک کرکه لري ، دې جابرانو خپلو ناولو موخو ته د رسېدو لپاره ډېر تیټ کارونه وکړل ، دسقأو زامن یې د یو محکوم او تش په نامه دولت په قالب کې په اجرایئه ، مقننه او عدلیه قواوو ور ننیستل مانا د ډنډ له هغومړو چینجیوڅخه یې ښاماران جوړکړل خصوصي او دولتي ملکیتونه یې پرې لوټ کړل بس په همدې ډول یې زموږ دولس غوسه را وپارولـه ځو جګړې ته ملا وتړي کرزي ته یې ټوپۍ او چپنه ورواغوسته چې تر ځومو ستا په موجودیت کې داستا غښتلی (پښتون قام) درته تباه کړی نه وي او د یونوکال دتېلو کمپنۍ خپلو موخو ته رسېدلې نه وي ته به همدا ډول نڅا کوې په یوه سترګه به ژاړې او په دا بله رپېدلې سترګه به خاندې تر څو دولس شک دربانـدې را نه شي او که نه دمسعود په ډول به واولوزول شي .

 




**دمخدره توکو له مينځه وړل :**

هغه متل دې وايي چې شرعه خو ظاهره غواړي دا دی مهرباني وکړئ دا لاندې تصوير وګورئ چې څه تاسو ته در ښيي اوس د دوی له برکته په کال کې کم له کمه ۶۵ پنځه شپېته مليارده ډالر د مخدره توکو حاصل دی چې له هغې جملې څخه يې صرف ۵ پنځه مليارده افغان مافيا دانور يې نړيوالې مافيا ته دپېرنګيانوله برکته ورځي دا د دوی مبارزه ده چې کوي يې .



**دښځو حقونه :**

په دې برخه کې يې دومره دتاثف وړ چارې تر سره کړې چې هم يې په ودونو او هم يې په هديرو کې جامې په وينو وروړنګولې په پښتون مېشتو سيمو کې يې داسې بمونه پرې وکارول چې اوس زموږ خويندې معيوب بچيان دنيا ته راوړي ددې تر څنګ يې داسې بمونه وورولي چې دسرطان ډول ډول ناروغي وګړو ته پيدا شوې دي له دې څخه ور اخوايې يو شمېر هغه دلالانې په ځينو دولتي کورسيو سپرې کړې کومې چې دافغان مېرمنو استازستوب نه شي کولای هسې تش په نامه لوېديځوال پرې غولوي چې موږ د ښځو حقونه پرځای کړل په دا لاندې تصويرونو کې به تاسو دښځو حقونه پخپله وګورئ چې څه ډول يې ورپوره کړل .











## ماشوم روزنه او پالنه :

**زموږ ماشومان د دوی له برکته نور هم پسې پښې لوڅي شول په ضعيفو اندامونو درانه کارونه کوي يا سوال او ګدائي کوي تر څو خپلو معيوبو ميندو او پلرونو ته د ماښام يوه ګوله ګی راوړي خوله هغه سره سره يې دشپې په کورونوچاپې وهلې ګيږي په سپيو داړل کيږي او په خپل کور کې قتليږي داهم بايد زياته کړم چې درې ورځې مخکې مې د آزادي له راديو څخه د يو شمبرهغو پلرونو فرياد واوريد دکومو چې ماشوم اولادونه په کروندو کې د امريکايي بمونو په ذريعه ټپي شوي وو دا بمونه دلوبو دوسائيلو په ډول جوړ شوي دي .**




**ترووریزم ځپل :**

**په دې اړوند تاسو پخپله قضاوت وکړئ چې ترووریزم د چا زیږنده ده، دڅه لپاره او څوک یې تمویلوي ؟**






**په زړه پورې نور نعمتونه :**

**هغو افغانانو چې داسلام د نجات لپاره له لویدیځوالو څخه مرستې او وسلې اخیستې ، دروسانو تر څنګ یې خپل افغانان هم په بې شمېره توګه ووژل چې په نتیجه کې یې هېواد په فزیکي او فکري لحاظ ډیر خوار کړ ځکه خو اوس له خپله لاسه په خپل انګړ کې لاس تړلي ناست دي دا هغه نعمتونه ورته ورسېدل چې دملي ګټو خیال یې نه ساته دوی د پردیو په لاپو شاپو وغولېدل دومره اشتباه یې وکړه چې له ثواب څخه یې عذاب زیات شوداسلام مقدس دین ته یې دکټې پر ځای زیان ورساوه دا خبره به مې ترخه وي خو حقیقت دی دا هم حقیقت دی چې اوس هم لا نه جوړیږو او نه پوهیږو یو د حساب سړی چې په موږ کې را توکیږي بیا له واره دکوم موزي لخوا خنډونه ورته پیدا شي که داسې نه وي نو بیا ولې له دا دومرو قربانیو سره سره موږ یو غښتلی مشر ونه موند؟**






له بدوبده خويي داچې اوس زموږ دتاريخي جرګودبې اهميتي لپاره تش په نامه بې حاصله جرګې رابولي لـه هغه ځخه لانوربديې پسې داچې هېواداو ولس دښمن کرزی راولاړ شوجنګي لوی جنايتکار رباني يې پـه انتصابي توګـه دهمدې جرګـې رئـيس وټاکـه، همدانن مـې دآزادي راديـو د آزادي پـه ځپـو پروګـرام کـې پـه ځرګند ډول نيوکه پرې وکړه چې کرزي پـه رمه باندې لېوه د شپون پـه حيث مقرر کړ ، چېرې رباني او چېرې افغاني جرګې ؟

دا هرڅه زموږ مظلوم قام د سپکاوي لپاره روان دي تر څو پـه لـوی لاس جګړه او ړده او ښـکېلاکګر خپلو موخو

ته پکې ورسيږي لنډه يې داچې که لا اوس هم څوک لـه کرزي ځخه توقوع لري نو بس خدای پاک دې هدايت ورته وکړي .

جګړه پـه لـوی لاس اوږدوي نـاورين راوړي ×× يو لـــــوړوي بل پرزوي ګټـــــــــــې

پالـــــي

دښـکېلاکګرو نـوی رسم نـوې چـارې ګـورئ ×× ورونـــــــــه پـــــه ورونـو قتلوي مـوږ

لــــوټوي





يادونـــــــــــه :

که حوصله لرئ دا لاندې مطلب هم ولولئ .

مننه

# ديابو دبدلولو وخت دی .

دکرزي حکومت به دشپږو مياشتو په اوږدو کې سقوط وکړي

يوه باوري سرچينه چې تازه له امريکا راګرځېدلې ده روهي ويبپاڼې ته ووېل چې دولسمشر کرزي حکومت به دراتلونکو شپږو مياشتو په اوږدو کې ړنګ شي .

نوموړې سرچينه زياتوي چې پـه امريکـاکې دبـاراک اوبامـا پـه ګډون ډېری سياستوال او د کـانګرس ډېری غړي دکرزي پر کړنو او وړتيا بې باوره شوي دي که چېرې د کرزي حکومت په راتلونکو شپږو مياشتو کې ړنګ نـه شو ددې مانا به دا وي ، چې اوباما به د ولسمشرۍ په راتلونکو ټاکنوکې ځان نه کانديدوي ځکه هغه مهال به يې د بريا چانس هيڅ نه وي .

سرچيني روهي ويبپاڼې ته ووېل :

په پنتاګون کې يو لوړ پوړي چاروکي لـه افغان سرچيني سره دافغانستان دوضعيت پـه اړه خبرې کولې او پـه افغانستان کې يې دپخواني شوروي اتحاد دسرتېرو دمشر جنرا ل مايوروف هغه وينا ورتـه تکرار کړه چې نور ديابو دبدلولو وخت دی .

امريکايي چاراوکي دا ونه وېله چې دافغانستان راتلونکی يابو به څوک وي ؟

له روهي ويبپاڼې ځخه په ډېره مننه